مور د جنازې پسې له تګ څخه منع شوې یو، خو زیات ټینګار راباندې ندی شوی

له أم عطية رضى الله عنها څخه روایت دی وایي چې: مور د جنازې پسې له تګ څخه منع شوې یو، خو زیات ټینګار راباندې ندی شوی.
[صحیح دی] [متفق علیه دی]

أم عطية الأنصارية رضي الله عنها وايي چې نبي صلى الله عليه وسلم ښځې د جنازې پسې له تلو څخه منع کړي دي؛ ځکه وېره شته چې دوی په فتنه کې واقع شي او یا د دوی له امله نور په فتنه کې واقع شي، او دا چې دوی کم صبره دي، بیا هغې رضي الله عنها وویل چې نبي صلى الله عليه وسلم پدې اړه دومره ټینګار ندی کړی لکه څومره به یې چې په نورو منهیاتو کې کاوه.

http://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3228